پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل».

-------------------------------------

# پسرلیه !

دنړی خلک دستا په راتګ سره خوشحا لی کوی ، پیغلی ستا رنګا رنګ ګلان پخپل وربل کی تومبی ، بلبلانو ستا په چمنونوا وباغونو کی د ګل له شوقه نڅا کوی اودګلونو په چاپیریال کی طواف کوی ، سهارنی نسیم دستا دګلانو اود ګلبوټی عطراو خوشبوی هرخواته خپروی ، په ویالو کی داوبه شره هار په سور اوپه تال سره نغمی غږوی دستا په راتګ سره دښتی او صحرا زرغون جامی اغوندی دغاټول ګلان د ستا دغرونو اوپه رغونو کی سور رنګ غالی غوړوی هر سبایی د بلبلانو خوږی آوازونه سړی ته فرحت ښښی ، دلمر وړانګی دګلبوټو په مخ شبنم ته ځلا ورکوی اوله ورایه داسی را ښکاری چي د ګلا نو په پا ڼو کی د مرغلری دانی سره جیل شوی دی دګودر په لار کی عا شقا نو یودبل لاری څاری او خپل مینو ته دسترګو په اشاری سره خپل مینه ښکاره کوی ....اما ځما په وطن کی ته چی راځی دتاسره جنګ ، جګړی ، شخړی ، مرګ او ژوبله راځی هره ورخ زمونږ دوطن دکلی اوباڼدی څخه جنازی قبرستان ته وړل کیږی ، خلک له خپل ځانه څخه ډاریږی ، هرخوا چاودنه ډزی ، ځان وژنی ، نا امنی ، وحشت اوډار دخلکو ژوند ګواښوی ، زړونه ناقرار کیږی هیڅوک نه پوهیږی چي ژوندی کورته راځی اوکه نه ؟ میندی خپل میره ځوی او لور خپل پلار ، ورور خپل خور او ورور دلاسه ورکوی له هر کلی او با ڼدی څخه دویر اود ما تم آوازونه پورته کیږي اودا دڅه دپاره ؟ هوکی دا ددی دپاره چي یو څو بی فرهنګ ، خیټور ، غل او له پوه اوعلم څخه بی خبر ،بی احساس ، بی عا طفی او له خلکو څخه جدا حریص ، غاصب او سارقانو دخپل واک د ساتلو د پاره د پردی اهریمنا نو سره په سازش کی اوبو خړوی اوکبان نیسی نو دهمدی اوضاعو په نظرکی نیولو سره دستا راتګ زمونږ داولس دپا ره نه داچي نیکمرغی نه راځی بلکه د ستا په راتګ سره دخلکو قاتلان او جلادان راځی د تا په راتګ سره خلکو ته بدمرغی ، وژنی ، لوټوني او ....راځی - نو ځما په نظر ستا مقدم ته هغه وخت ښه راغلاست وایم چی دستا په راتګ سره سولی او امن راشی نور کوچینانو خپل مور او پلار دلاسه ور نکړی ، میندی بور نشی دخلکو په غوږ کی ډزی وانوریدل شی دکلو او دباڼدو څخه ویر او ژړا تر غوږ نشی ..... ستا په باغونو او چمنونو کی نور مرغان دډزی له امله جلا وطنه نشی هرخوا ارامی ، هوساینه او مصونیت برقرار شی نور هیڅوک دزوره ور له ګواښ څخه ونه ډار شی ............

# ځما په څه

ځما په څه چي پسرلي نن اوسبا راځي
يا چي بلبل د ګل له شوقه په نڅا راځي
زه مې د خپل اولس له درده په کوکا ر يمه
يو ورځ خو نه دی هره ورځ مي ژړا راځي
غليم مې ورور په انتحا ر سره له مينځه وړی
د مجاهد اشرار واکدارو په امنا راځي
ميندی دخپل ميره په ويرکی سره سرسپين کړ
دهغی په غوږ کی د مرميو لوړ صدا راځي
ته د خواران او غريبانو پسرلي نه يي
ستا په راتګ سره نه سولي اونه صفا راځي
**

جرمنی( 2018-03-16)